UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

## د افغانستان په جګړه کی د پنځم کال لپاره د ملکی وګړو مرګ ژوبله په زیاتیدو ده

**د ۲۰۱۲ کال د فبروری ۴ مه، کابل –** په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) نن په وسله واله جګړه کی د ملکی وګړو د ساتنی په هکله د ۲۰۱۱ کلنی هغه رپورټ خپرولو په موقع چی د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری په همکاریٔ جوړ شوی دی، وویل چی۲۰۱۱ کال په افغانستان کی د وسله والی جګړی پنځم کال دی چی د ملکی وګړو مرګ ژوبله په کی مخ پر زیاتیدو وه. د جګړی د خواوو د خوښی تکتیکونو کی بدلونونه په ۲۰۱۱ کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د ۸ سلنه زیاتیدلو لامل و.

یوناما په ۲۰۱۱ کی د ۳۰۲۱ ملکی وګړو مړینی مستند کړی چی په ۲۰۱۰ کال کی یی شمیر ۲۷۹۰ او د ۲۰۰۹ کال کی ۲۴۱۲ و. په تیرو پنځو کلونو کی په وسله واله جګړه کی د وژل شوو ملکی وګړو شمیر کال په کال زیات شوی دی چی د ۲۰۰۷ کال راهیسی ۱۱۸۶۴ ته رسیږی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی یان کوبیش وویل: "افغان ماشومان، ښځی او نارینه په زیاتیدونکی توګه په دی جګړه کی وژل کیږی." هغه زیاته کړه: "افغان ملکی وګړو لپاره د ډیری اوږدی مودی راهیسی جګړه ډیره ګرانه تمامیږی. د جګړی خواوی باید هڅی ډیری زیاتی کړی تر څو ملکی وګړی وساتل شی او په ۲۰۱۲ کی یوځل بیا د ملکی وګړو مرګ ژوبله زیاته نه شی."

د دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۱ کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د زیاتی برخی سبب ګرځیدلی، او د تیرو کلونو څخه یی لا اړولی ده—یعنی ۲۳۳۲ یا د ټولو هغو ملکی وګړو چی په جګړه کی وژل شوی، ۷۷ سلنه چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی څرګندوی. سربیره پر دی، ۴۱۰ د ملکی وګړو مړینی یا د ټولو ۱۴ سلنه د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتونو له کبله منځ ته راغلی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۴ سلنه کموالی ښئی. نور ۲۷۹ ملکی تلفات چی د ټولو ۹ سلنه جوړوی د جګړی د خواو هیڅ یو لوری ته نه دی منسوب شوی.

دغه بی ساری د ملکی وګړو تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا د تکتیکونو د بدلون او د جګړی د خواو د تکتیکونو تأثیراتو کی د تغییر نتیجه ده. د دولت ضد عناصرو له تعبیه شوو چاودیدونکو توکو څخه زیاته او په لا پراخه کچه په ټول هیواد کی استفاده کړی، او لا زیات وژونکی او مهم ځان وژونکی بریدونه یی تر سره کړی چی په نتیجه کی د لا زیاتو تلفاتو سبب ګرځیدلی. دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوایی بریدونو له کبله ملکی مرګ ژوبله کی په ۲۰۱۱ کال کی زیاتوالی راغلی، په داسی حال کی چی د هوایی بریدونو شمیر کم شوی دی او د ملکی وګړو مرګ ژوبلی کموالی دولت پلوه ځواکونو ته منسوبیږی.

رپورټ څرګندوی چی "د دولت ضد عناصرو له خوا استعمال شوی تکتیکونه افغان ملکی وګړی د زیاتی مرګ ژوبلی سره مخ کړی چی په ۲۰۱۱ کی یی په زیاتیدونکی توګه وژونکی تأثیرات درلودل. تعبیه شوی چاودیدونکی توکی په ۲۰۱۱ کی د افغان ماشومانو، ښځو او نارینه و د وژل کیدلو یواځینی او تر ټولو لویه طریقه وه چی د ۹۶۷ ملکی وګړو ژوند یی اخیستی چی په روانه جګړه کی د ملکی وګړو تقریباً دریمه برخه (۳۲ سلنه) جوړوی." د دولت ضد عناصرو د انسان په واسطه منفجریدونکی فشاری تعبیه شوو بمونو استعمال زیات کړی و چی د پرسونل ضد ماین په څیر کار کوی او هغه وخت چوی چی کله، د ماشومانو په شمول، کوم انسان پری پښه کیږدی او یا کومه واسطه پری وروخیژی.

د ځان مرګی بریدونو له کبله د ملکی وګړو د مړینی کچه په افغانستان کی په څرګنده توګه لوړه شوی ده. په مجموع کی، ۴۵۰ تنه ملکی وګړی په ځان مرګو بریدونو کی وژل شوی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۸۰ سلنه زیاتوالی ښئی. که څه هم د ۲۰۱۰ په پرتله د ځان مرګو بریدونو شمیر نه دی زیات شوی، خو د دی بریدونو بڼه بدله شوی او لا زیات پیچلی شوی او کله زیات ځان وژونکی هم په یوه برید کی دخیل شوی او برید داسی طرح شوی چی د لا زیاتو ملکی وګړو د مرګ ژوبلی سبب شوی.

د دولت ضد عناصرو له خوا هدفمنی وژنی هم په ۲۰۱۱ کی زیاتی شوی دی. یوناما د هیواد په کچه ۴۹۵ هدفمنی وژنی ثبت کړی چی د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښئی. والیان او ولسوالان، د محلی حکومت مأمورین او کارکوونکی او د ولایتی شورا ګانو او سولی شوراګانو غړی او محلی او قومی مشران په دی ډول وژنو کی په نښه کړای شوی دی.

رپورټ وایی چی "د دولت پلوه ځواکونو په تکتیکونو کی هوایی بریدونه په ۲۰۱۱ کال کی د زیات شمیر ملکی افغانانو د وژنی لامل ګرځیدلی" او په ګوته کوی چی د ۱۸۷ ملکی وګړو وژل هوایی بریدونو ته منسوب شوی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښئی. د شپی له خوا عملیاتونو کی د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکی وګړو د تلفاتو شمیر په ۲۰۱۱ کی ۶۳ ته راکوز شوی چی د ۲۰۱۰ په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښئی.

د ۲۰۱۱ کال په اوږدو کی، یوناما د محلی پولیسو د کړنو او د ملکی وګړو پر ساتلو د دوی مؤثریت په هکله مختلف رپورټونه ترلاسه کړی دی. د کال په پای کی، زیاتو اړونده مراجعو ویلی چی هغه ځایونو کی چی محلی پولیس ګمارل شوی، امنیت ښه شوی دی. خو په ځینو سیمو کی محلی پولیسو کی د بشری حقونو پیژندل شوی سرغړونکی شامل شوی، او د دوی تفکیک، ټریننګ، قومانده او کنټرول، څارنه او حساب ورکونه لا هم ضعیفه دی. یوناما په ۲۰۱۱ کال کی د محلی پولیسو له خوا په ځینو ولسوالیو کی د خلکو د بشری حقونه نقضول هم مستند کړی دی. د ډسمبر په میاشت کی په افغانستان کی نړیوالو امنیتی مرستندویه ځواکونو (آیساف) وویل چی دوی د داخله وزارت سره ځینی ګامونه پورته کړی چی د محلی

پولیسو نظارت او حساب ورکونه ښه کړای شي. یوناما د دې اقداماتو هرکلی کوي او سپارښتنه کوي چې مخکې د محلي پولیسو د پراخولو څخه دې په بیړنۍ او بشپړه توګه دا تدابیر عملي کړای شي.

د یوناما رپورټ زیاتوي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې جغرافیایي توزیع کې، په ځانګړې توګه د ۲۰۱۱ کال په وروستي نیمایي کې، ښکاره توپیر راغلی. په جنوب کې د وسله والې جګړې د شدت د کمیدلو سره، جګړه په جنوب ختیزو، ختیزو او شمالي سیمو کې سخته شوې ده، چې په نتیجه کې د ملکي وګړو د وژلو زیات شمیر په دې سیمو کې وژل شوي دي.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، نیوي پیلې چې د مارچ په میاشت کې به په افغانستان کې د بشري حقونو په اړه انکشافات د بشري حقونو شورا ته وړاندې کړي وویل: "ډیره ویروونکې ده چې سړي ګوري چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کال په کال په زیاتیدو ده. د دې شمیرو معنی دا ده چې د افغانانو کورنۍ په ریښتیا هم کړیږي. دا په طرفینو لازمه ده چې باید دا جریان ودروي او د داسې مرګونو مخه ونیسي."

د ۲۰۱۱ کال په ترڅ کې عادي افغانانو په خپل ورځني ژوند کې د وسله والې جګړې له کبله په زیاتیدونکې توګه مزاحمتونه او اغیزې ولیدلې. جګړې او نا امنۍ په ۲۰۱۱ کال کې ۱۸۵۶۳۲ تنه افغانان بې ځایه کړل چې د ۲۰۱۰ په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالی ښئي. زرګونه نورو افغانانو د خپل معیشت وسایل او شتمنۍ له لاسه ورکړې، او آزادي یې یا محدوده شوه یا ورڅخه واخیستل شوه، او غذا، روغتیایي پاملرنې او تعلیم ته یې لاسرسی متأثره شول. رپورټ څرګندوي: "د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ثابتې کچې او د جګړې د طرفونو له خوا پراخه تهدیدونو او د دولت پلوه او دولت ضد ځواکونو زیاتیدلو، ګڼ شمیر ملکي وګړي مستقیماً، او ډیرې نور یې په غیر مستقیم ډول، د ستونزو د رابرسیره کیدلو، ویرې او تشویشونو له لارې متأثره کړي دي."

د ۲۰۱۲ کال په پیل کې داسې وړاندیزونه او نظرونه راپیدا شول چې کیدای شي د سولې د مذاکراتو پر لورې مرسته وکړي. یوناما تأکید کوي چې د سولې په هر راز خبرو اترو کې باید تر ټولو لوړ لومړی توب په روانه جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه وي، او په هره پایله کې چې د شخړې د حل سبب ګرځي، پر داسې جدي او مؤثرو اقداماتو کولو تأکید کوي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله ورسره کمه شي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جورجیت ګنیا وویل: "د افغانانو لپاره د سولې مذاکراتو او پرمختګ ارزښت او اعتبار به په دې کې وي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شي او په ریښتیني ډول امنیت کې ښه والی راشي، په ځانګړې توګه په نا امنه سیمو کې. هغې زیاته کړه: "یواځې د سولې د پروسې په جریان کې او تر هغوې وروسته د ملکي وګړو د ساتنې په موخه تدابیرو د زیاتولو له لارې ممکنه ده چې د افغانو ماشومانو، ښځو او نارینه و مرګ ژوبله ودرول شي."

**د افغان ملکي وګړو ځیني بیانونه او څرګندونې**

*د سهار ۱۱ بجې او ۴۵ دقیقې وې چې ما د چاودنې آواز واوریده. یو څو دقیقې وروسته زما میرمنې زما موبایل ته زنګ راوواهه. هغه ډیره نا راحته وه او په خبره پوهیدل یې ستونزمن وو. هغې راته وویل هغه مهال چې چاودنه وشوه زما ۱۴ کلن ځوی هلته د یخ اخیستلو لپاره تللی و. هغې وویل چې د هغه وینه یې پر سړک ولیده خو نه پوهیږي چې هغه به چیرته وي. زه روغتون ته ولاړم. په زخمیانو او مړو کې مې د لږ وخت لټون وروسته د هغه مړی پیدا کړ. یوه پارچه یې سر کې لګیدلې وه. زه بې هوښه شوم او بیا ملګرو کور ته وړی وم. زما د ځوی مرګ ما او زما میرمن وژنې. ما یواځې همدا یو ځوی درلود.*

ــ د بلخ ولایت د مزار شریف د دشت شور په سیمه کې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په یوه چاودنه کې د یو وژل شوي هلک د پلار وینا، د ۲۰۱۱ کال د جولای ۲۰.

*زه یو ښوونکی یم او زه له کلي څخه دې لپاره د ولسوالۍ مرکز ته راغلم چې خپل معاش واخلم. کله چې بیرته راوګرځیدم، هلته د طالبانو او افغان ملي اردو او آیساف ځواکونو تر منځ جګړه وشوه. یوه جیټ الوتکه راغله او د طالبانو پر خوا یې بمباري وکړه خو هغې دوه کورونه هم وویشتل. زه ډیر سخت ټپي شوی وم او هغه مهال چې زه د یو کور سره نژدې وم، ومې لیدل چې نور ۱۳ تنه هم په هغه کور کې ټپیان شوي دي.*

-- د کنړ ولایت د غازي آباد ولسوالۍ کې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر پر ۲۰مه د یو هوایي برید یو ټپي شوی قرباني.

*چاودنې زه او ځینې نور مسافرین له ټکسي څخه بهر وغورځول. زما څخه وینه روانه وه خو بې هوښه نه وم. ډاکټرانو ویل چې زما سر ټپي شوی خو کوم خطر نه شته. زما په ټول وجود کې ګڼ شمیر ټپونه شته چې د اوسپنې د پارچو له امله غوځ شوي. زما ټکسي چې زما لپاره د روزګار یواځینۍ وسیله وه په بشپړه توګه تخریب شوې. زه نه پوهیږم چې څه وکړم. آیا څوک ماسره مرسته کولای شي چې جوړ یې کړم؟ زه ۸ ماشومان او عیال لرم او مشر یې له ۱۴ کلونو څخه کم دی، چې باید ډوډۍ ورکړم. زه نه پوهیږم چې اوس څه وکړم. په عین حال کې تر اوسه پورې مې ۲۰۰۰۰ افغانۍ (۴۴۴ ډالره) په خپل علاج مصرف کړې. زه غواړم یاغیانو ته ووایم چې د بې ګناه خلکو وژنې دې ودروي. دا د اسلامي اصولو خلاف دي .*

د کندز ولایت د کندز په ښار کې د 2011 کال د جون د میاشتې د 19 نیټې د ځان مرګي برید یو ټپي.

*زما ورور ما ته وویل چې د ملي اردو سرتیرو د هغه پر موټر ډزې وکړې او ممکن ۲۰۰ ډزه به یې پرې کړې وي. مخکې له دې چې زما ورور وکړای شي چې خپل موټر د یو دیوال شا ته پناه کړي یو ګولۍ پر موټر ولګیده او زما لور یې ووژله. هغه صرف ۵ کلنه وه. په موټر کې یواځې زما ورور او ۶ ماشومان ناست وو او تر ټولو مشر ماشوم له ۷ کالو څخه کم و. زه نه پوهیږم چې د ملي اردو سرتیرو ولې په موټر ډزې کولې په داسې حال کې چې هغوې څو دقیقې وړاندې موټر تلاشي کړی و. د دې کار لپاره هیڅ دلیل موجود نه و. مونږ بیخي خوابدي او نا امیده یو. که دې خلکو ته سزا ورنه کړای شي نو هر څه به پیښ شي.*

*-- د یوی ۵ کلنی نجلی پلار چی د افغان ملی اردو سرتیرو له خوا یوی پوستی سره وویشتل شوه، د پکتیا ولایت د گردیز ښار، د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۷مه.*

**د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکی وګړو د ساتنی کلنی ریپوټ د جګړی خواو ته لاندی سپاربښتنی وړاندی کوی:**

**د دولت ضد عناصرو ته**


- د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو متابعت دی وکړی، او د تفکیک، تناسب او احتیاطی تدابیرو د نیولو اصول دی مراعات کړی، او د ژوند حق دی وساتی.
- د فشاری تعبیه شوو چاودیدونکو توکو استعمال دی ودروی، خپل غړی دی د داسی شیانو له استعمال څخه منع کړی او د بی تفکیکه او غیر مجاز وسلو د استعمال د منعی په برخه کی دی علناً تعهد ښکاره کړی.
- د ملکی وګړو په نښه کول او بی تفکیکه توګه د ځان وژونکو بریدونو تر سره کول دی ودروی چی د ښځو او ماشومانو په شمول ملکی وګړو ته زیان رسوی، او هغه اوامر دی بیرته وګرځوی چی پر ملکی وګړو بریدونو او د هغوی د وژلو جواز ورکوی، او د "ملکی" وګړو لپاره دی هغه تعریف وکاروی چی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو سره برابر وی.
- د عبادت پر ځایونو دی، لکه جوماتونه، چی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو له مخی مصؤون ځایونه دی، حملی ودروی.
- داسی لایحه او هدایات دی صادر کړی چی د دوی غړو ته د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی څخه د ساتنی لاربښونه کوی او هغه غړی چی ملکی وګړی وژنی یا ټپی کوی، د هغوی څخه دی حساب وغوښتل شی.


**د افغانستان حکومت ته**


- د دی لپاره چی افغان امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی مرګ ژوبلی ټولو پیښو پر وخت او دقیقه څارنه او تعقیب وشی، د آیساف د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی د له منځه وړلو د ټیم په څیر دی په افغان ملی اردو کی دی یو ټیم جوړ کړی، تر څو د ملکی وګړو ساتنه، حساب ورکونه، ترمیمی تدابیر او جبران لا ښه کړای شی.
- ډاډمنه دی کړی چی ټولو ځواکونو ته د قوی د تدریجی زیاتولو، تاکتیکونو او د وژونکی ځواک د استعمال بدیل په برخه کی ټریننګ ورکړی. د امنیتی پوستو او کاروانونو د سمو پروسیجرونو د تطبیق او ورڅخه د خلکو د خبرداریٔ په موخه دی د عامه پوهاوی خدمات وړاندی کړی .
- ټولو افغان ملی امنیتی ځواکونو (ملی اردو، ملی پولیس، سرحدی پولیس، محلی پولیس او نور) ته دی د نړیوالو بشردوستانه قوانینو او بشری حقونو قوانینو په ټولو برخو کی روزنه ورکړی او ډاډمنه دی کړی چی دا ډول روزنه لازمی وګڼل شی او د افغان ملی امنیتی ځواکونو د ټریننګ د پروګرام برخه وګرځی.
- د افغان محلی پولسو د جلب او جذب، تزکیی، څارنی او حساب ورکونی میکانیزمونه دی ښه کړای شی تر څو د دوی او نورو محلی دفاعی ځواکونو له خوا چی د حکومت تر کنټرول لاندی دی، د بشری حقونو څخه سرغړونی او جرایمو مخنیوی وشی او د پیښیدو په صورت کی مناسب چلند ورسره وشی .

**نړیوالو امنیتی ځواکونو ته**

- د ټولو نظامی عملیاتونو، په ځانګړی توګه هوایی بریدونو، د پلان جوړولو او عملی کولو په جریان کی د ملکی وګړو د وژلو او ټپی کیدلو او د ملکی شتمنیو د خساری د مخنیوی په موخه دی د ټولو طرزالعملونو او هدایاتو بیا کتنه وکړی.
- د ملکی تلفاتو د مخنیوی، د ملکی وګړو د ژوند د اخلال د کمولو او د هغوی د شتمنیو د خوندی ساتلو لپاره دی د آیساف د قوماندان اراده عملی شی، د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر د لومړی نیټی د "شپی له خوا د عملیاتو تکتیکی هدایات" دی په بشپړه توګه عملی کړی، د محلی مشرتابه سره دی تر ممکنه بریده تر عملیاتو د مخه، د عملیاتو پر مهال اوهم وروسته، معلومات شریک کړی، او ملی امنیتی ځواکونه دی تشویق کړی چی د داسی عملیاتو مشری وکړی.
- شفافیت او حساب ورکونی ته دی وده ورکړی، د جبران طرزالعملونه دی اصلاح کړی، او د اغیزمن  شوو ملکی وګړو او ټولنو سره د لا ښو اړیکو ټینګولو لپاره دی په بیړنی توګه د هغو پیښو په اړه چی د ملکی مرګ ژوبلی سبب شوی، د ارزونی د ټیم (JIAT) موندنی په عامه سطحه خپری کړی .
- د افغانستان حکومت سره دی څومره ژر چی کیدای شی، داسی اقدامات عملی کړی چی د افغان محلی پولیسو کړنی او د هغوی نظارت او حساب ورکونه او د ساحی په کچه مانیټورنګ او لاربښونه کی ښه والی راشی، او ټولی هغه ډلی دی بیرته منحل کړی چی د محلی دفاعی ځواک په توګه د حکومت تر ولکی بهر فعالیت کوی.




---

**د ایډیټرانو لپاره یادونه:**

د وړاندې معلوماتو لپاره مهربانی وکړئ په لاندی پته اړیکه ونیسئ:

د ستراتیژیکو روابطو او د ویاد واحد

په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

د رسنيو د اړيکو تفصيل آنلاين دلته وګورئ: http://unama.unmissions.org

**د يوناما وياندان:**

اغلی نيلاب مبارز: + 93 (0) 797 662 503

ښاغلی نظيف الله سالارزی: + 93 (0) 797 662 504

ښاغلی ډان مک نارټن: + 93 (0) 700 250 358

---